# څوک چې تاسو ته راشي په داسې حال کې چې تاسو ټول په یو سړي راغونډ شوي یاست، غواړي چې ستاسو منځ کې درز او تفرقه واچوي، او یا مو جماعت سره بیل کړي، نو ویې وژنئ

له عرفجة رضی الله عنه څخه روایت دی وايي چې: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې فرمایل یې: «څوک چې تاسو ته راشي په داسې حال کې چې تاسو ټول په یو سړي راغونډ شوي یاست، غواړي چې ستاسو منځ کې درز او تفرقه واچوي، او یا مو جماعت سره بیل کړي، نو ویې وژنئ».
[صحيح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم بیانوي چې کله مسلمانان پر یو چارواکي سره راغونډ شول، او یا په یو جماعت سره راټول شول، بیا یو څوک راشي او د واک پر سر ورسره شخړه وکړي، نو پر دوی یې منع کول او ورسره جګړه کول واجب دي، تر څو یې شر دفع شي، او د وینو تویدلو مخنیوی وشي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/58223

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee